د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننگرهار)

د کیفیت لوړونې آمریت

# د اکاډمیکې ازادۍ پالیسي

## (محصلین ، استادان او اداري کار کوونکي)

سنبله ۱۴۰۳

# لیکلړ


سریزه ........................................................................................................ 1

لومړۍ ماده: د پالیسۍ اهداف ........................................................................ 2

دویمه ماده: د پالیسۍ مبنی............................................................................ 2

درېیمه ماده: اکاډمیک فعالیتونه او چاپېریال ................................................... 2

څلورمه ماده: د محصلینو اکاډمیکه ازادي ...................................................... 2

پنځمه ماده: د استادانو اکاډمیکه ازادي ........................................................ 3

شپږمه ماده: د اداري کار کوونکو اکاډمیکه ازادي ......................................... 4

اوومه ماده: کومې کړنې اکاډمیکه ازادي نه ده ................................................ 4

اتمه ماده: د پالیسۍ د نه رعایت پایلې........................................................... 5

## سریزه

په دې کې شک نشته چې د انسان خلقت د الله جل جلاله د کمال لوی مظهر دی. الله جل جلاله انسانو ته ډېرې ورتیاوې او اختیارات ورکړي دي، لیکن دغه اختیارات لا محدود نه دي. د تشریعي احکامو په چوکاټ کې انسانان ازادي لري او ټولې هغه کړنې ترسره کولی شي چې د دنیا او آخرت نیکمرغۍ پکې نغښتې وي. په مسلمانه ټولنه کې چې وګړي یو بل سره اړیکې لري، نورو سره د خپلو نظرونو شریکولو لپاره د ټاکلو دیني او ملي اصولو په رعایت سره ازادي لري. په تحصیلي ادارو کې د زده کړو، کار او خدمتونو وړاندې کولو په برخو کې محصلین، استادان او اداري کار کوونکي د معلومو اصولو په رعایت سره کولای شي چې د کړنلارو، اجراءاتو او چارو په اړه خپل نظرونه په داسې توګه یو له بل سره شریک کړي چې د اسلامي شریعت او ملي ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي.

د لوړو زده کړو وزارت لخوا تحصیلي ادارې په دې مکلفې ګرځول شوي دي چې د خپلو محصلینو، استادانو او اداري کار کوونکو لپاره هغه برخې روښانه کړي چې په هغې کې دوی ازادي لري. په دې پالیسۍ کې د مبنی او اهدافو سربېره د ازادیو ګڼ شمېر هغه موارد په پام کې نیول شوي دي چې د محصلینو، استادانو او اداري کار کوونکو لپاره پکې اجازه شته تر څو خپل نظر، غوښتنه، وړاندیز او نیوکه ادارې سره شریک کړي.

د اکاډمیکې ازادۍ په واسطه به کار کوونکي او محصلین وکولای شي چې د سالمو انتقاداتو او په ازادانه توګه د نظریاتو شریکولو له لارې د ادارې د خدماتو او فعالیتونو د ښه والي سبب شي. همدا راز، که چېرې محصلین یا کار کوونکي د یو کار ترسراوي څو ګونو طریقو او کړنلارو په اړه فکر کوي، دوی به پوه شي چې په کومو مواردو کې باید په مؤسسه کې د تغیراتو او بدلونونو غوښتنه کیدلای شي او په کومو هغو کې د وزارت لخوا ټاکل شوی ترتیب باید رعایت شي.

د اکاډمیکې ازادۍ پالیسي شتون هیڅکله دا نه تضمینوي چې کار کوونکي او محصلین دې په مطلق ډول د هر څه ترسره کولو لپاره بشپړه ازادي ولري. په تحصیلي اداره کې د زده کړو او کار کولو لپاره هغه طرزالعملونه او پالیسیانې چې مؤسسې د لوړو زده کړو وزارت د تقنیني سندونو، احکامو او فرامینو د تطبیق لپاره چمتو کړي باید رعایت شي. اکاډمیکه ازادي یواځې هغه وخت عملي کیږي چې د یو کار ترسراوي لپاره څوګونې تګلارې موجودې وي، دغه تګلارې د اسلامي شریعت، ملي او کلتوري ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي، کار کوونکي او محصلین کولای شي د اړوندو چارو ترسراوي په موخه د دې پالیسۍ د مفاداتو پر بنسټ خپلې ازادۍ څخه په استفادې نظرونه او غوښتنې ادارې سره شریکې کړي.

## لومړۍ ماده: د پالیسۍ اهداف

1. د دیني او ملي ارزښتونو په رڼا کې د اکاډمیکې ازادۍ د حدودو ټاکل
2. د محصلینو د اکاډمیکې ازادۍ د نوعیت ټاکل او رعایت
3. د استادانو د اکاډمیکي ازادۍ د نوعیت ټاکل او رعایت
4. د اداري کار کوونکو د اکاډمیکې ازادۍ د نوعیت ټاکل او رعایت
5. د لوړو زده کړو وزارت د معیارونو او غوښتنو پوره والی

## دویمه ماده: د پالیسۍ مبنی

د اکاډمیکې ازادۍ دا پالیسي د ملکي لوړو زده کړو قانون درییمې مادې ۱۱م بند او د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکونې اووم اصلي معیار اړوند اووم فرعي معیار د رعایت په موخه تدوین شوې ده.

## دریمه ماده: د اصطلاحاتو پېژندنه

**اکاډمیک چاپېریال:**

اکاډمیک چاپېریال هغه چاپېریال دی چې تدریس، څېړنه او نور علمي فعالیتونه په هغه کې صورت نیسي.

**اکاډمیکه ازادي:**

د منل شویو علمي تګلارو (رَوِشونو) او معیارونو پر بنسټ، د علمي نظریو ازادانه وړاندې کولو ته اکاډمیکه ازادي ویل کیږي.

**اکاډمیک تقویم:**

د سمسترونو د پیل او پای زمان بندي او د ازموینو اخستل دي.

## څلورمه ماده: د محصلینو اکاډمیکه ازادي

په سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) کې محصلین لاندې ذکر شویو چارو، فعالیتونو او کړنو کې ازادي لري:

1. د کانکور ازموینې وړاندې د پوهنځي انتخاب
2. د مؤسسې له اسانتیاو څخه په مساویانه توګه مشروع ګټه اخستنه
3. د دیني او ملي اصولو په رعایت سره د نورو په نظرونو نقد کول
4. د استادانو لخوا ورکړل شویو نمرو په اړه د بیا کتنې غوښتنه کول
5. په اختیاري برنامو کې د ګډون کولو او نه کولو په اړه پرېکړه کول
6. د پایلیکونو لپاره د غیر تکراري علمي-څېړنیزو موضوعاتو انتخاب
7. د استادانو لخوا د په ګوته شویو کومکي درسي سرچینو د تغیر په اړه غوښتنه کول

8. د مؤسسې په اړوندو کمېټو او شورا ګانو کې د اصولو په رعایت سره د نظر شریکول
9. د ټاکلو دیني او ملي اصولو په رعایت سره استادانو څخه د موضوع اړوند پوښتنې کول
10. د مؤسسې او پوهنځي د لومړیتوبونو په رعایت سره د علمي څېړنو لپاره د موضوعاتو انتخاب
11. د استادانو د تدریس کیفیت په اړه د عیني حالت په رعایت د حقایقو پر بنسټ خپل نظر شریکول
12. د مؤسسې د طرزالعملونو او پالسیانو په رعایت سره د هغو کړنو په اړه نظر شریکول چې محصلین زیانمنوي
13. د ټاکلي طرزالعمل په رعایت سره مؤسسې څخه په نظم او دسپلین کمېټه کې د غړیتوب ترلاسه کولو غوښتنه
14. په مسلکي مضامینو کې د مؤجه دلایلو پر بنسټ د تائید شوي نصاب په مفرداتو کې د حد اکثر ۲۰ سلنه تغیراتو غوښتنه کول
15. د مؤسسې اړوند تحصیلي نصابونو او ستراتیژیکو پلانونو د تدوین پر مهال د ګټورو او منطقي نظرونو شریکول
16. د مؤسسې د ټولو کار کوونکو د اجراءاتو په اړه د رضایت سروې ترسراوي پر مهال د نظرونو او غوښتنو شریکول
17. شکایتونو ته د رسیدګۍ کمېټې له لارې د مؤسسې مسؤولینو سره د خپلو قانوني غوښتنو او وړاندیزونو شریکول
18. د مؤسسې د اجراءاتو اصلاح او خدماتو ښه والي په موخه مسؤولینو سره خپلې غوښتنې او وړاندیزونه شریکول

## پنځمه ماده: د استادانو اکاډمیکه ازادي

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) کې ټول دایمي او پوره وخته استادان د دینې او ملي ارزښتونو او اصولو په رعایت سره په لاندې چارو، فعالیتونو او کړنو کې ازادي لري:

1. پر پایلو ولاړو محصل محوره زده کړو اصولو په رعایت سره اړوند مضمون لپاره د تدریس د میتود انتخاب
2. د مؤسسې لومړیتوبونو ته په کتنې د خپل مسلک اړوند علمي څېړنې، تألیف او ژباړې لپاره د عنوان انتخاب
3. د مؤسسې نورو استادانو، اداري کار کوونکو او محصلینو سره د ترسره شویو علمي څېړنو د موندنو او پایلو شریکول او بیانول
4. په اړوندو مضامینو کې د محصلینو ترمنځ د سالم رقابت رامنځته کولو لپاره د لارو چارو انتخاب
5. د محصلینو د عملي زده کړو لپاره د پروسیجرونو لارښود په رعایت د محصلینو د ګروپونو ټاکل
6. د زده کړیزو پروسو، برنامو، کړنلارو او فعالیتونو په ړه د اړوندو مسؤولینو سره نظرونه شریکول
7. د لوړو زده کړو وزارت لخوا تائید شوي نصاب غوره تدریس لپاره د کومکي درسي کتابونو انتخاب او تغیر
8. د محصلینو مسلکي روزنې او مهارتونو لوړونې په موخه د اکاډمیکو فعالیتونو لپاره د موضوعاتو انتخاب
9. د علمي کنفرانسونو لارښود مطابق نورو استادانو ته د کنفرانس وړاندې کولو لپاره د موضوع انتخاب
10. د خالي بستونو لپاره د نویو کاندیدانو تقرر پروسه کې د نیمګړتیاو په ګوته کول او مسؤولینو سره شریکول
11. د مؤسسې هغه اسانتیاو څخه چې استادانو لپاره په واک کې ورکړل شوي دي، په مساویانه توګه ګټه پورته کول
12. د علمي برنامو او فعالیتونو کیفیت او کمیت لوړاوي په موخه د مؤسسې مسؤولینو سره خپل نظرونه شریکول
13. د محصلینو د وړتیاو او پوهې پر بنسټ په ارزونو او ازموینو کې محصلینو ته نمرې ورکول

14. د ديني او ملي ارزښتونو په رعايت سره د محصلينو پوښتنې ځوابول
15. په پوهنځي او مؤسسه کې استاد خپل اړوند اسنادو او معلوماتو ته لاس رسی
16. د مؤسسې په اصلي کمېټو کې د غړيتوب حق درلودل
17. د اړوندو لايحو په رعايت سره د محصلينو د کاميابۍ او ناکامۍ پرېکړه کول

### شپږمه ماده: د اداري کار کوونکو اکاډميکه ازادي

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې اداري کار کوونکي د ديني او ملي ارزښتونو او اصولو په رعايت سره لاندې برخو کې ازادي لري:

1. د مؤسسې او پوهنځي اوږد مهاله پلانونو لپاره د اهدافو او فعاليتونو ټاکل
2. محصلينو ته د پلان او علمي تقويم مطابق د برنامو او فعاليتونو کيفيت او نوعيت ټاکل
3. د کار کوونکو د تقرُر پروسه کې د اړوند طرزالعمل مطابق د سوالونو د جوړولو کيفيت
4. د ديني او ملي ارزښتونو په رعايت سره د مؤسسې اجراءات نقد کول يا د بيا کتنې غوښتنه کول
5. د مستقيم آمر په موافقه د پلان په رعايت سره د خپلو اړوندو فعاليتونو د ترسراوي کيفيت ټاکل
6. د ديني او ملي ارزښتونو او اصولو په رعايت سره د اړتيا پر بنسټ استادانو، اداري کار کوونکو او محصلينو مسلکي پوهې زياتوالي او مهارتونو لوړاوي په موخه د برنامو او فعاليتونو ټاکل
7. د توامیتونو د ايجاد ساتنې او پراختيا پاليسۍ په رعايت بهرنيو ادارو سره ګټورې کاري اړيکې ايجادول، ساتل او پراخول
8. د مؤسسې د اداري اجراءاتو اصلاح او بهبود په موخه اړوندو مسؤولينو سره خپل انتقادي نظرونه شريکول
9. د استادانو د علمي ليکنو، څېړنو، تأليفاتو او ژباړو په اړه اصلاحي نيوکې او رغنيز وړانديزونه شريکول
10. د ديني او ملي ارزښتونو او اصولو په رعايت سره د نوښتيزو او غوره طرحو وړاندې کولو په برخه کې بشپړه ازادي درلودل

### اوومه ماده: کومې کړنې اکاډميکه ازادي نه ده

د مؤسسې محصلين، استادان او اداري کار کوونکي بايد په دې پوه وي چې لاندې ذکر شوي موارد اکاډميکه ازادي نه نقض کوي. هغه کړنې، حالتونه او موارد چې اکاډميکې ازادۍ کې شامل نه دي، په لاندې ډول دي:

1. اکاډميکه ازادي استادانو، محصلينو او اداري کار کوونکو ته اجازه نه ورکوي چې څوک تهديد کړي، ازار او اذيت ورته ورسوي، تمسخر يې کړي، يا خپل نظريات په نورو تحميل کړي.
2. د محصل اکاډميکه ازادي د استاد د دې غوښتنې مانع نه ګرځي چې محصل بايد خپل مضمون ښه زده کړي او د مؤسسې اساسي ضوابط رعايت کړي.

3. اکاډمیکه ازادي د علمي کادر هغه غړي چې د خپلو غیر علمي کړنو او د مؤسسې د پالیسیو د نقض او تخطۍ د ادعا په اړه د ځواب ورکونې او توضیحاتو د ارایه کولو لپاره حاضر نه وي، ملاتړ نه کوي.
4. محصلین، استادان او اداري کار کوونکي غیر محدوده ازادي نه لري. دوی کولای شي چې د دیني او ملي اصولو او ارزښتونو په رعایت سره د خپلې ازادۍ څخه په استفادې نظرونه، غوښتنې او طرحې اداري سره شریکې کړي.
5. استادان، اداري کار کوونکي او محصلین د مؤسسې په داخل کې او همدا راز په داخلي او بهرنیو نشراتي یا ارتباطي چینلونو یا رسنیو کې د مؤسسې په استازیتوب سیاسي بحثونه اکاډمیکه ازادي نه بلل کیږي.

## اتمه ماده: د پالیسی د نه رعایت پایلې

که چېرې د مؤسسې استادان، اداري کار کوونکي او محصلین د دې پالیسۍ په څلورمه، پنځمه او شپږمه ماده کې د ذکر شویو واردو نقض حس کوي یا یېویني، دوی کولای شي چې په مؤسسه کې شکایاتو ته د رسیدګۍ کمېټې سره خپل شکایت ثبت کړي او مسؤولین رسما له دې خبر کړي چې د شکایت کوونکي/کوونکو اکاډمیکه ازادي سلب شوې ده. شکایتونو ته د رسیدګۍ کمېټه به له پلټنو وروسته د اثباتیه شواهدو په رویت متخلف محصل یا کار کوونکي ته شفاهي توصیه کوي؛ د نه اصلاح یا تکرار په صورت کې به محصل یا کار کوونکي ته کتبي توصیه کوي.

د اکاډمیکې ازادي پالیسی پورتنی متن د مؤسسې پلان او پالیسی په (۱۴۰۳/۷/۱۵ ) نېټه (۰۷) ګڼه جلسه کې تائید او ثبت ده.

د کمېټې د مسؤول لاسلیک

په پورته توګه د مؤسسې اکاډمیکې ازادۍ پالیسي د مؤسسې علمي شورا په ( ۱۵ /۱۴۰۳/۷) نېټه ( ۰۹) ګڼه جلسه کې تائید او ثبت ده.

د علمي شورا د منشي لاسلیک

د علمي شورا د مشر لاسلیک